لیکوال: داکتر نوراحمد خالدي
ژباړن: سیلاني

۲۰۲۰/۰۵/۳۰

# ځانګړی او ملي هویت

انسانان نفوسي ( د موګرافیکي ) هویت ته په کتو په بېلابېلو ډلو وېشل کېږي او یو له بله یې توپیر کېږي. که چېرې موږ په ټولنه کې له کوچني واحد ( غړي ) څخه پیل او تر ټولو لوی واحد ( انسان یا بشریت ) باندې یې پای ته ورسو، لکه څنګه چې بناغلی سیف فاضل ګروهمن دی، چې یو انسان د بېلابېلو هویتونو درلودونکی دی، لکه :

ځانګړی هویت ( احمد/ ناهید... )، جنسي هویت ( نارینه / ښځینه )کورنی هویت ( شریفي، امیري... )، دیني هویت ( مسلمان،هندو ، عیسوي...)، مذهبي هویت ( سني / شعیه...)، سیمیز هویت ( د همزنګي/ شهرنوي...)، ښاري هویت ( چاریکاري/ کندهاري، هراتي ...)، سمتي هویت ( قطغني/ پکتیاوال ...)، قومي هویت ( پښتون، تاجک، هزاره...) ملي هویت ( افغان، جرمن، روس...) قاره يي هویت ( اروپایي، افریقایي ...)، جیوپولیتیکي هویت ( شرقي، غربي ...) نژادي هویت ( سپین، تور...)، طبیعي هویت ( انسان ) ....
دا په داسي حال کې ده، چې د پښتون، تاجک، هزاره او ازبک... قومي هویتونه په خپلو کې دوینو اړیکي لري. د ملي هویت ( افغان ، روس جرمن ... ) درلودل دیوکس تابعیت یوې ځانګړې سیاسي جغرافیې او هېواد پورې تړي. په اوسني عصر کې د نړۍ ټول هېوادونه دبېلابېلو ټبرونو څخه جوړ شوي دي. په دغو هېوادونو کې یو شمېر داسي هېوادونه هم شته چي نومونه یې د هماغه هېواد د لوی ټبر په نوم نومول شوي دي، لکه : ترکان، روسان، هندیان، فارسیان، انګلیسان....

۱ ــ په ۱۷۸۲م کال د تیمورشاه د واکمنۍ پر مهال، جورج فوستر د افغانستان څخه د تېرېدو پرمهال د افغانستان هېواد او ملت یادونه کړې ....( جورج فورستر، مسافرت از بنگال به انگلستان از طریق شمال هندوستان،و افغانستان، فارس او روسیه، چاپ لندن، ۱۷۸۹ م )

۲ ــ په ۱۷۸۹ م کال د قاجاري دولت لوی وزیر په خپل یو رسمي مکتوب کې دافغانستان د نوم یادونه وکړه،( صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر )

۳ ــ په ۱۷۸۹ م کال د شاه زمان لوی وزیر؛ وفادار خان، د قاجاري دولت دلوی وزیر د رسمي مکتوب په ځواب کې د افغانستان د نوم یادونه کړې. ( صدیق فرهنګ،افغانستان در پنج قرن اخیر )

۴ ــ په ۱۸۸۰ م کال د انګلیسي او قاجاري دولت ترمنځ په یو تړون کې د افغانستان هېواد یادونه شوې ده، ( محمود محمود، تاریخ روابط انګلیس با ایران در قرن نزدهم )

۵ ــ په ۱۸۰۹ م کال الفونستون د افغانستان هېواد څخه یادونه کړې.( مونتستوارت الفونستون، ګزارش سلطنت کابل و قلمروهای تابعه ان در فارس، کشمیر و تاتاری ، چاپ لندن ۱۸۴۲ م)

۶ ــ په ۱۸۳۷ م کال قاجاري شاه د هرات د محاصرې لهٔماتې وروسته په خپل منشور کې د افغانستان هېواد یادونه کړې. ( محمود محمود، تاریخ روابط انګلیس با ایران در قرن نزدهم .)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۷ ــ په ۱۸۳۸م کال د برطانوي هند وایسرای د افغان او انګلیس لڅلومړۍ جګړې څخه مخکې د افغانستان نوم یاد کړی دی. ( صدیق فرهنگ، افغانستان در پنج قرن اخیر ) او همدارنګه
۸ ــ د عثماني ترکیې د سیاسي جغرافیې په نقشه کې چې همدا اوس هم د استانبول په موزیم کې خوندي ده، د ابدالي افغانستان د امپراطورۍ یادونه شوې ده.

مګر په افغانستان د ننه نورو ټبرونو یا اقوامو پښتونو ته « افغان » او هېواد ته یې ( د کابل له جنوب څخه تر سند دریا پورې ) د افغانستان نوم کارولی دی . دا ډول برداشتونه د سیف هروي ( کتابهای تاریخچه هرات )او د ظهر الدین بابر ( بابر نامه ) کې چې د بابر د زماني پیښې ( د ۹۳۶ تر ۸۹۹ کلونو پیښې ) په کې منعکس شوي دي، هم یادي شوي دي . همدارنګه د کابل په دربار کې د حبیب اللهٔخان تر واکمنۍ پورې پښتو ژبه د افغاني ژبې په نوم یادېده. دا په داسې حال کې ده چې پښتانهٔ خپل ټبر (( پښتانهٔ، پختانهٔ )) او خپله ژبه (( پښتو یا پختو )) نوموي، خو دافغان کلمې عمومیت ته په کتو، پښتانهٔ دا کلمه د خپلو پېژندنو لپاره هم کارولې، کره بېلګه د خوشحال خان ختک او رحمان بابا په شعرونو کې لیدلی شو.

له سیف فاضل څخه په فېسبوک کې نقل شوي دي؛(( د افغان له کلمې سره د نسبتي ( ی ) کارول د ګرامر په لحاظ؛ هر هغه څیز یا شی چې افغان پورې تړلی یا نسبت ورته ورکول شوی وي. مګر ددې کلمې نسبت اشخاصو ته ناسم کار دی، د افغان لغت یو خاص نوم او فاعلي صفت لري. د افغانستان لهٔکلمې سره د نسبتي ( ی ) لهٔیوځای کېدو افغانستاني کلمه لاسته راځي، دا هم همدارنګه هغه څه چې افغانستان ته یې نسبت شوی وي. افغانستانی یا افغانی هغه چاته ته ویل کیږی، چې لهٔ بهره د افغانانو لهٔخاورې سره اړیکه یا هم نسبت ولري. یعنې دا خاوره اصلاً د افغانانو ده. مګر افغان نه یم، ناچاره نومورو وګړو او هېواد سره یې د اړیکې په درلودو او نسبت اعتراف کوم.

د افغانستان د وګړو ملي او قومي هویت په ۲۰۰۳ م کال دنافذ شوي اساسي قانون په ۱۴ ماده کې داسې پېژندل شوی دی ؛ (( ملي حاکمیت په افغانستان کې افغانانو پورې اړه لري، چې کله یې په مستقیمه توګه او کله یې هم د خپلو استازو په واسطه کاروي. د افغانستان ملت د هغو وګړو څخه عبارت دی؛ چې د افغانستان تابعیت ولري. په افغانستان کې شته اقوام عبارت دي له: پښتانهٔ، تاجک، ازبک، هزاره، پشه یي، نورستاني، ایماق، عرب،بلوچ،ترکمن، قرغز، قزلباش، ګوجر، براهوي... د افغانستان هر وګړي ته د افغان کلمه کارول کیږي. ))

لکه څنګه چې لیدل کیږی، دوګړو قومي هویت په اساسي قانون کې خوندي دی، د ملي هویت بنسټیز شرط د افغانستان تابعیت دی،نه کوم قومي عنصر. نو په دې اساس تر کومه چې ددې خاورې نوم افغانستان دی، بې له شکه وګړي یې هم افغانان دي. په دې برخه کې د افغانستان داساسي قانون څخه سترګې پټول او همدارنګه هر ډول نورې قومي هڅې بې پایلې دي، چې داکار پرته لهٔ کړکې او ستونزو بل څه نه زېږوي .

## اخذ لیکونه:


۱ ــ جورج فورستر، مسافرت از بنګال به انګلستان از طریق شمال هندوستان،و افغانستان، فارس او روسیه، چاپ لندن، ۱۷۸۹ م(
۲ ــ صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر (
۳ ــ محمود محمود، تاریخ روابط انګلیس با ایران در قرن نزدهم (
۴ــ مونتستوارت الفونستون، گزارش سلطنت کابل و قلمروهای تابعه ان در فارس، کشمیر و تاتاری ، چاپ لندن ۱۸۴۲ م(
۵ ــ عثماني ترکیې دسیاسي تاریخي جغرافیې نقشه
۶- د سیف هروي اثر ( کتابهای تاریخچه هرات )
۷ ــ د ظهرالدین بابر ( بابر نامه)
۸ــ دافغانستان اساسي قانون...
۹ــ سیف فاضل...




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ